**د افغانستان د اسلامي جمهوریت**

**د سولې لار نقشې لنډیز**

## سوله کول

## د افغانانو په مالکیت د سولې پروسې راتلونکی فصل

د ملي وحدت حکومت سولې ته د رسېدو لپاره د واقعي بیړې په درشل کې دی. موږ دغسې عجله له کلونو راهیسې لرله، او موږ مخکې له مخکې د پایدارې سولې لپاره په تېرو پنځو کلونو کې زمینه برابره کړې ده. د ۲۰۱۸ کال فبرورۍ په ۲۸ د سولې وړاندیز د دغې عجلې یوه بېلګه ده. موږ پرته له کوم قید او شرطه د سولې وړاندیز وکړ.

موږ د سولې د یوې داسې هوکړې په لټه کې یو چې پر اساس یې طالبان د یوې دیموکراتیکې او ټول شمولې ټولنې برخه و ګرځي. لاندې ټکو ته په پام موږ وړاندیز وکړ چې:

- د اساسي قانون سره سم د ټولو اتباعو (په ځانګړې ډول د ښځو) د حقوقو او مکلفیتونو تامینول؛
- د اساسي قانون منل یا د اساسي قانون له احکامو سره سم د هغه تعدیل؛
- له قانون سره سم د ملکي خدمتونو، امنیتي او دفاعي ځواکونو د فعالیتونو پر مخ وړل؛
- هیڅ یوې وسله‌والې ډلې ته چې له بهرنیو تروریستي شبکو، بهرنیو تخریبي سازمانونو، دولتي یا غیر دولتي بنسټونو سره اړیکه ولري او په افغانستان کې د نفوذ په لټه کې وي، اجازه نه ورکول کیږي.

دغو موخو ته رسېدو لپاره باید افغانستان مستقل او خپلواک وي. موږ باید لنډمهاله ګټو لپاره پایدار سوله قرباني نه کړو، دا به زړې شخړې په پراخه توګه بیا تازه کړي او د افغانستان اوسنی او راتلونکی نسل به له ورانی او بدمرغی سره مخ کړي. موږ باید رواني جګړې ته د تل لپاره د پای ټکی کیږدو.

له تېرو ۸ میاشتو را پدېخوا له مختلفو اقشارو سره د سولې په اړه د مشورتي ناستو مشترک ټکي په لاندې ډول دي:

1. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پر اهمیت او اعتبار اجماع؛
2. نړیوالې ټولنې سره زموږ اساسي شراکت؛
3. د سولې پروسې مالکیت او رهبري باید د افغانستان حکومت سره وي.

**د دغو مشورتي ناستو په پایله کې لاندې ټکي اعلانوو:**

1. د مذاکراتو لپاره زموږ ۱۲ کسیزه ټیم د جمهوری ریاست د دفتر رئیس سلام رحیمي په مشرۍ تیار دی. په ټیم کې ښځې او نارینه شامل دي چې د مذاکراتو وړتیاوې لري.
2. ددې لپاره چې اجماع یقیني شي او د مذاکراتو ټیم ته مسیر وټاکل شي، د ولسمشر په مشرۍ د افرادو یو متنوع گروپ د ولسمشر د مشورتي بورد په حیث تشکیلوم تر څو د سولې مذاکراتو په بهیر کې په حساسو موضوعاتو ولسمشر ته مشوره ورکړي.
3. د سولې عالي شورای او د حکومت د غوښتنو په اساس به د یادې شورای جوړښت باندې بیا کتنهکېږي تر څو په عامه پوهاوي او د سولې تړون څخه وروسته پر نورو پړاوونو تمرکز وکړي.
4. حکومت په پنځو مرحلو کې پر مخ ځي، بین الافغاني مذاکرات به کیږي، تر هغه وروسته به پاکستان او امریکا متحده ایالتونو سره بحثونه، بیا د سیمه ییزو خواوو سره خبرې، ورپسې عربي او اسلامي نړۍ سره بحثونه او په پای کې به د ناټو او غیر ناټو هېوادونو سره خبرې کیږي.
5. په مذاکراتو کې به د هوکړې پلي کولو، د اعتماد جوړونې اقداماتو او د سولې د هوکړې په تصویب موافقې ته لومړیتوب ورکول کیږي.

د ۲۰۱۹ کال په پسرلي کې ولسمشریزې ټاکنې د سولې مذاکراتو لپاره ډېرې اړینې دي. افغانان د سولې هوکړې تصویب، د هغه عملي کولو او د ټولنیزې پخلاینې رهبري کولو لپاره یو منتخب حکومت ته اړتیا لري.

د سولې پروسې پلي کول لږ تر لږه پنځو کلونو ته اړتیا لري. د دې پروسې عملي کول د اقلیمي بدلون او وچکالۍ، د ۴ میلیونه مهاجرینو بېرته راگرځول، د داخلي بې ځایه شویو بېرته ځای پر ځای کول او د فقر کچې ټیټولو هڅې هغه فکتورونو دي چې پروسې عملي کول بطي کوي.

ددې لپاره چې په سیاسي برخه کې بریالي واوسو، په لومړي کال کې باید خپل گڼ شمېر فعالیتونه چټک وساتو تر څو په یوه ټاکلي وخت کې اعتماد او باور رامنځته شي.

افغانستان لپاره د سولې هوکړې څخه وروسته د سولې عملي کولو پلان چې د افغانستان او نړیوالې ټولنې په گډو هڅو جوړ شي، افغان حکومت ته به زمینه مساعده کړي تر څو ملي، سیمه ییزو او نړیوال سرچېنو او ظرفیتونو څخه په سمه توگه استفاده وکړي او نړیوال او د سولې په برخه کې سیمه ییز او نړیوال تضمین تر لاسه کړي.

افغان حکومت او خلک په ټینگار غوښتنه کوي چې زموږ ټول گاونډي دې د ملگرو ملتونو د کنوانسیون په اساس د تروریزم پر وړاندې خپلې وجیبې تر سره کړي. د سولې پروسه باید د افغانانو په رهبرۍ وي، او حکومت خپلو ټولو شریکانو څخه غواړي تر څو حمایوي نقش ولوبوي.

**د مذاکراتو لپاره زموږ ۱۲ کسیزه ټیم غړي په لاندې ډول دي:** (دغه لیست د بدلون او زیاتونې وړ دی)

- عبدالسلام رحیمي، د جمهور رئیس د دفتر رئیس
- محمد میرویس بلخي، د پوهنې وزیر
- حسینه صافي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزیره
- عبدالتواب بالاکرزی، د لوړو زدکړو د وزارت معین
- ډاکتر عالمه، د کډوالو او راستنېدونکو د چارو وزارت معینه
- جنرال عبادالله عباد، د ملي امنیت د لوي ریاست معاون
- شاه ګل رضایي، د ولسي جرګې غړي
- عطالله لودین، د علماو شورا غړی
- شمیم خان کټوازی، د پکتیا والي
- عبدالله عطایي، د ستره محکمې غړی
- توریالی غیاثي، د بهیرنیو چارو وزارت د فرهنګي چارو رئیس
- عبدالحکیم منیب، د حج اوقافو معین

**د مشورتي بورډ نهه کمېټې:**

1. د سیاسي رهبرانو کمیټه
2. د سیاسي احزابو کمیټه
3. د ځوانانو چارو کمیټه
4. د ښځو د چارو کمیټه
5. د علماوو کمیټه
6. د ولایتي رهبرانو کمیټه
7. د مدني ټولنو او فرهنګی کمیټه
8. د خصوصي سکټور کمیټه
9. د کډوالو او کوچیانو کمیټه